Zabardast
Deeer khaista research de kry. Well done

M T W T F S DATE:

# عمر فاروق

## س- پښتونولي څه ته وائي: د پښتونولي ضروري اجزاء:

## ج- پېژندنه:

پښتونولي هغه قاعده ده چې په
مختلف وخت کښې د پښتنو لخوا جوړه شوې ده. او یا
په بل عبارت یې چې وایو پښتونولي هغه دود او دستورونه
دي د کوم اړندې چې پښتانه خپل ژوند کوي. د پښتونولي
اجزاء یا ضروري صفتونه په درې غټو برخو کښې
تقسیمېږي. چې پکښې خوي خصلت، دود دستور او
اړدې چارې شامل دي.

## ۱- د پښتونولي پېژندنه:

پښتونولي د داسې اصولو
روایاتو او دستورو مجموعه ده د کوم اړندې چې د پښتون
قام د ژوند معاملات چلیږي. لنډه دا چې پښتونولي د
پښتون قام آئین و قانون دی او هغه ټول اصول پکښې
شامل دي کوم چې پښتون د پښتو خپل کړي دي او د
ژوند معاملات پرې کوي.

## ۲- ایا پښتونولي باندې اوږدې خبرې:

ځکه چې د
دنیا هر قوم د څه اصولو د لارې خپل ژوند تېروي
هم د هغه شان د پښتنو د ژوند تیرولو هم یو طریقه



Scanned with CamScanner

او آئین دے. او دي طم یقي او آئین ته پښتونولي وائي.
آسانو تکو کښي د پښتونولي مطلب دا دي، چې د
پښتانه په داخله تر مرګه پورې چې د پښتنو کم
عادتونه، روایاتونه، رسمونه و رواجونه او د ژوند تېرولو
طم یقي دي، دا ټول د پښتونولي په دائره کښي
راځي. او دي ټولو ته پښتونولي وائي.

## ۳- د پښتونولي ضروري اجزاء او اصول:

همسي خو
د پښتونولي بې شماره اجزاء او اصولونه دي، خو د آسانتیا
دپاره زه د پښتونولي اجزاء په درې غټو برخو کښي تقسیموم
او هغه برخې دا دي۔

1- خوي او خصلت
2- دود دستور
3. لارې چارې

او س به دي یو یو برخه باندې او بدې
خبرې لیکلې شوې دي۔

## 1. خوي خصلت:

خوي خصلت د پښتونولي وړومبۍ
ضروري برخه ده. د خوئ خصلت نه مراد د پښتون
مزاج او صفتونه دي. په دې کښي هونبه سره شامل
دي پت او عزت، ښیګړه او نیکي، تږه او میړانه،
لوظ، ننګ او غیرت، رښتیا و نیل، زړه ورتیا، انصاف،



Scanned with CamScanner

M T W T F S DATE:

سخاوت، شرم او حیاء امانت او صلاح مشوره دي نه
علاوه نور هم ښې خصلتونه دي.

## ۱- پت او عزت:

د پت نه مراد په هو نږ باندې چې
د نورو خلقو د طرف نه کوم حقوق دي. هغه که د ده دور دي که د ده
خور دي که د مور پلار، کاونډي، خپلوان یا که د هر چا دي
هغې ته وائي پت. دې وجې نه پت او عزت د پښتنو په نظر
کښې ډېر اهمیت لري. اسلام هم په پت او عزت ډېر زور ورکړې
دې. نو دې نه اندازه لګي چې پت او عزت د پښتنو لوړ ډېر ښه
خصلت دې. خوشحال خان بابا د دې په حقله وائي:

سر دې درومي مال دې درومي پت دې نه ځي
د سړي د چارې ټول خوبي په پت ده

مطلب سر دې هم لاړ شي، مال دې هم لاړ شي خو پت او عزت
دې نه ځي ځکه پت او عزت د سړي ټولو نه غټه خوبي ده.

## ۲- ښېګړه او نیکي:

ښېګړه او نیکي مطلب د نورو
خلقو په کار راتلل او دا د پښتنو د معاشرې لویه خوبي ده او
ټول پښتانه دا جذبه لري او کړي. ښېګړه او نیکي د پښتنو
ډېر زوړ خصلت دې او تر صبا جدا پد دنیا هم د پښتنو دا
صفت خپل کړې دې. پښتنو همېشه بغیر د څه مطلب نه
تفریق نه او قومیت نه ښېګړه او نیکي کړې ده او کوي او خاص
کر هغه که ښځې، ماشومان یا بوډاګان وي بیا خو پکښې

Babar Paper Product

Scanned with CamScanner

M T W T F S

DATE:

هیڅ شک نشته چې پښتانه د ښځو، ماشومانو او لویانو احترام کوي او خیال یې ساتي.

## ۳- لوړه او میړانه:

لوړه او میړانه وائي بهادري او غیرت ښکاره کولو ته خاص کر په جنګ کښې. لوړي او میړاني په قومي، دیني او تاریخي مقصدونو کښې ډېر اهمیت لري دي. ځکه پښتانه یو ډېر بهادر قوم دے. د دوي په خوي خصلت کښې بهادري شامل ده. خاص کر پښتانه په جنګ کښې بهادري ښکاره کړي ده او ښه په زړه یې جنګونه کړي دي. خو هغه له د غیرت، ناموس، پښتو، د وطن یا د اسلام د پاره جنګ وي.

## ۴- ننګ او غیرت:

پښتون د ننګیالي او غیرتي په توم یاد شوي دے ځکه پښتون په خپل عزت، د خپلې ښځې په عزت، د خپل کور په عزت، د خپل وطن، مذهب، دین او تر دې پورې د خپل سانلي ځناور د حفاظت د پاره همېشه قرباني ورکولو ته تیار دي. او داسې قسم پښتون ته ننګیالي یا غیرتي پښتون وائي. د ننګ او غیرت باره کښې د خوشحال بابا شعر دې:

د افغان په ننګ مې اوتړله توره
ننګیالی د زماني خوشحال خټک یم

خوشحال بابا وائي چې د پښتنو په بهادرۍ مې توره اوتړله او زه غیرتي خوشحال خټک یم.

Babar Paper Product

Scanned with CamScanner

M T W T F S DATE:

## ۵- رښتیا و ئیل:

رښتیا وئیل د پښتون د خوي خصلت یو اهم جز دي. اسلام اوزمونږ. ټول پیغمبر محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم هم مسلمانانو ته د رښتیا وئیلو حکم کړي دي. څو دا صفت په پښتنو کښې د اسلام د راتلو نه مخکښې موجود وو. پښتنو کښې دا صفت د پښتنو د جز کې نه راغلي دي او هغه داسې چې کله د پښتنو جرګه کیږي نو دي ټول په یو ګول دائره یا د اکے په شکل کښې کیني. د دې فائده داوي چې ټول یو بل ته مښامخ ګوري او څوک دروغ وئیلي نشي. دې نه علاوه د پښتنو ننګ او غیرت هم پښتنو ته د دروغو اجازت نه ورکوي. ځکه پښتانه د پښتونولي تمام [illegible] دے.

## ۶- زړه ور تیا:

زړه ورتیا د پښتونولی اهم حصه ده.

ځکه پښتانه بے غیرته خلقو ته د بد ګوري او غنی خان هم وائي:

که کړے مې په سینه خوږلې نه وي
مړي ما پسې په کوم مخ به ته ژاړې

ځکه پښتانه داسې خلقو سره تعلق هم نه ساتي. بعضې پښتانه خو تر دکم عقل توب د حده پورې زړه ور وي ځکه وائي چې سنتی او زړه ور سړي او ښیار لشي کیدي. او پښتانه زړه ور قوم دے.

## ۷- اتفاق:

اتفاق د پښتنو مشهور صفت دے او چې څوک اتفاق نه کړي هغه د پښتونولی د معیار نه غورځیږي.



Scanned with CamScanner

د پښتنو په چار پېر چل کښې چې څوک انصاف نه کوي، جرګه
دغه کس ته سزاګاني ورکوي او ټول کلي ورپسې راپاسي او کور
ورله سوزوي او د کلي نه يې اوباسي. ځکه پښتانه د انصاف د پاره
مشهور دي، او بغير د څه تفريق او سفارش نه د پښتنو جرګې په
انصاف فيصلې کوي.

## ۸- سخاوت:

پښتانه سړي به سخي هم وي او غيرتي هم
که دا دوه خبرې په کښې نه وي دغه پښتون نه وي او د پښتنو مشري
هم نشي کولی. د دې فلسفه دا ده کو چرې غم ښادي وي يا
جرګه وي يا د چا غم پېښ مدد کول وي نو کو د پښتنو مشر سخي
نه وي نو دغه به څېره څنګه چلي، ميلما به څنګه پالي يا د
غم پېښانو مدد به بيا څه اوکړي. ځکه د پښتنو مشر به سخي ضرور وي-

## ۹- شرم او حيا:

شرم او حيا هم د پښتونولۍ اهم
جز دی. پښتانه په خپله هم حيا ناک دي او حيا وال خلک
خوښوي هم او د بې حيا او بې شرمو نه کرکه کوي. او دا
د اسلام هم وينا ده. دې وجې نه شرم او حيا ډېره ضروري ده
پښتانه په خاص خاص موقو باندې په خاص خاص ځايونو کښې
خاص خاص عادات ساتي. لکه د حجرې خپل آداب دي د مسجد خپل
آداب لري د دغه شرم او حيا د پښتنو په ټول ژوند کښې خوره ده

## ۱۰ - امانت:

د امانت حفاظت کول دا د پښتنو خاصه
ده. پښتانه په امانت کښې چرې هم خيانت نه کوي. د امانت
اندازه مونږ په د عجب خان او شهزاده خان چې
کومه پيښه نکلي شبځه راوستي وه، په دې واقعه کښې هم کېږي.
کله چې جنرل ابلس د دې کور ته بغير اجازې ورغلي وه، د دې
بدل کښې دې د جنرل ابلس ليمپ ته ور دننه شوي وو او د
ابلس په خطا کښې د ښځې ښځه راوستي وه. خو چونکه دې
غلطي کښې راوستي وه او لو امانت وه لو بيا يې ورته ښځه واپس
بوتلې وه. لو ښځې د دې امانت حفاظت کړي وه.

## ۱۱ - صلاح مشوره:

صلاح مشوره پښتانه ضروري
ګڼي. ښځه که خپل ميړۀ کښې وي يا د مشرانو سره وي.
د پښتنو جرګه هم د صلاح مشورې لو حصه ده. کله جرګه
کښې مشران راټول شي او د لو مسلې حتمولو د پاره صلاح
مشوره اوکړي. او صلاح مشوره کول د جمهوري خلقو کار دے.

## 2. دود دستور:

دود دستور د پښتنولۍ دويمه ضروري
برخه ده. او دا دې مطلب دې قانون او آئين، چې کله په
پښتنو کښې څۀ مسئله راشي لو د ښځې د حل کولو په څۀ طريقه
وي ښځه لټول دود دستور کښې راځي. په دې کښې هو نبر. سره
شامل دي، جرګه، ننواتې، تېر.ه، روغه جوړه،

Scanned with CamScanner

M T W T F S
DATE:

پناه ورکول، ننګ ورول، د ښځو درناوے او عزت۔

## ۱۔ جرګه:

هر کله چې په پښتون قام کښې چاته څه مسئله پېښه شي یا خوړ جنګ جګړه وکړي نو د ځینې د حل کولو د پاره د مشرانو لویه غونډه کېږي، دې غونډې ته جرګه وائي۔ جرګه مونږ په دریوو برخو کښې وېشو:

**الف: مرکه:**

مرکې نه مراد تحقیق دے ـ او په دې کښې دوه، درې کسان ادرشي او د مسئلې باره کښې معلومات حاصل کړي څه ته انګلش کښې انوسټیګیشن وائي، او بیا د معلومات جرګې ته وړاندې کړي۔

**ب: جرګه:**

جرګې نه مراد عدالت کوم چې فیصله کوي۔
په جرګه کښې مشران په ګول دائره کښې ناست وي ـ راونډ ټیبل کانفرنس او جمهوري نظام دنیا ته جرګې ورکړي دي۔

**ج: لویه جرګه:**

لویه جرګه پارلیمنټ ته وئیلې کېږي۔
نن صبا وخت کښې د دې غټ مثال لویه جرګه دے، او د لویه لضور علم د پښتنو د لوے جرګې نه راوتي دے۔

## ۲۔ ننواتې:

ننواتې د پښتونولۍ لو اهم جز دے،
کله چې لو فریق د بل فریق سره ظلم وکړي یا قتل کړلښي



Scanned with CamScanner

M T W T F S DATE:

او کمېږي، او دې ظالم فریق ته احساس وشي چې ما ظلم کمړی
دے، لو د ظالم فریق د مظلوم کور ته ځي او د هغې معافي
غواړي. دی ته ننواتي وائي. دې داسې انداز سره ځې
چې ماشومان منځکښې وي (ځکه ماشومان خائسته وي او خوک
ورته څه نه وائي) بیا ورپسې ښځې رواني وي او په سرېې
قرآن مجیدونه اېښې وي، بیا سړي وي او بیا هلکان
وي سره د سارو. د پښتنو دا دستور دے چې د ظالم بیا خامخا
معاف کوي. هغه د سیال صیب لو شعر دے:

سیاله دا د پښتنو څومره ساده رواج دے
چې د خپل در نه د خپل سر قاتل شرمے لېښي

## ۳- تیږه:

کله چې د دوه فریقو لو بل سره څه پلاي روانه
وي. لو دې مېنځ کښې مشران راشي او د هغه دواړه فریقو
مېنځ کښې لو ساتمې تیږه دي او هغې ته او وائي چې تاسو
به اوس لو بل ته څه نه وائے. مشران د فیصلے د پاره لو وخت
مقرر کښي چې په دومره وخت کښې به مو تیږه ساسو مسئله
حل کوو. او دې دوران کښې لو غټه جرمانه مقرر کښې. کو
چا د دې تیږې خلاف ورزي وکړه هغه به بیا دا غټه جرمانه
ورکوي. دې دستور ته تیږه وائي او د نیا ورته سیز فائر
وائي.

## ۴- روغه جوړه:

روغه جوړه هم د امن د پاره لو کوشش دے.

M T W T F S                DATE:

کله چې د دوه کسانو یا خاندانو یا فرقو په مینځ کښې
ورانه وي نو مشران را ټول شي او دوی په مینځ کښې
دروغې کوشش کوي ـ کله نه کله پکښې څه شرطونه هم
ګېښودل شي او جوړه اوشي. هم پښتنو دا غواړي چې
روغه جوړه دې اوشي.

## ۵- پناه ورکول:

پناه ورکول د پښتنو لوړه بر ښه
د سلوک دے. کوچرې یو کس د خپل دښمن نه راتښتیدو
او پښتون کره لاړ شي، خواه که هغه د دې پښتون دښمن
وے نه وي، پښتون به هغه له پناه ورکوي. او د دې پښتون
بیا دا ذمې واري وي چې دا کس په خپل کور نه صحیح سلامت
رسوي او که دې کښې ناکامه شو بیا ورسره پښتانه ښه سلوک
نه کوي.

## ۶- ننګ ور وړل:

ننګ ور وړل داسې چې که
څوک مظلوم د دے او هغه نه د مدد ضرورت دے۔ او څوک
پښتون لاړ شي، هغه نه څه حوصله ورکړي چې زما سره یم او زما سره
واړه یم دے نه ننګ ور وړل وائي. یا که څوک مظلوم
د خپل قبیلې مشر له ورشي د مدد د پاره، او هغه مشر بیا
هغه سره اودریږي. نو دې نه ننګ ور وړل وائي.

Babar Paper Product

Scanned with CamScanner

M T W T F S DATE:

## ۷- د ښځو درناوی:

پښتانه د ښځو ډېر زیات
عزت و احترام کوي. پښتون معاشرې چې ښځې له کوم عزت
ورکړی دے د دنیا بل قوم نه دے ورکړی. کله چې پښتنې
ښځې راروانې وي او سړي ګډ وي لږ سړي بل خواه مخ کښې
او ښځې تېرې شي، د عزت د پاره سړي د ښځو مخکښې ډېرې
خبرې هم نه کوي. او پښتون چې کله قسم خوري یا په
خدای خوري او یا په ښځه. دے نه هم پته لګي چې پښتانه
د ښځو څومره عزت کوي.

## ۸- غزا:

غزا مطلب مقدس جنګ دے. د دې تعلیم خو
اسلام هم ورکوي او د پښتنو د سلو هم دے. دې کښې د خپلې
خاورې، د خپل عزت، د خپل وطن، د مذهب او د ننګ او غیرت
په دین پالنې دې د پاره جنګ کول شامل دي. پښتون لو
ډېر ښه جنګیالي دے او په جنګ کښې همېشه بهادري ښکاره
کوي.

## 3. لاړې چارې:

لاړې چارې د پښتونولۍ درېمه
برخه ده. مطلب چې د پښتون په نورو خلقو سره څنګه
د ژوند معاملات تېروي. په دې کښې حجره، بدرګه،
بدل، برامته او بوټه، دامه، ناغه، بلنډېز، چغه،
برغمل، ملاتړ، پېغور، کونډولي، اشر، لټول ته،

Babar Paper Product

Scanned with CamScanner

مېلمستیا، د مشر منل، د مشر خوښونه، اختر،
خپلوي، پېژندنه، د اولاد روزنه، خوراک پوښاک، کالونه،
لوبې، د څوئ خوشالي. الله، د ننګور پښتنه، اوس
نیوه، اډېره، میراث، نښانه دار، اوبه خور، د لارې ننګ،
سزا، د زنا سزا، ننګ تکور وغیره شامل دي.

## ۱- حجره:

حجره د پښتنو یو داسې ځای دے چې دا
د نیا بل یو قوم سره نشته، د حجرې ډېرې زیاتې فائدې
دي. حجره د غم خوشالۍ، د مشورې، د سماجي کارونو،
د موټرو د پارکنګ د پاره، د لوبو، د جرګو مرکو او داسې د
ګڼ شمېر کارونو ځای دے، د دې نه پته لګي چې پښتانه
څومره اوبنیادران وو. په حجره کښې د کلي ټول خلق ناست وي
کو خان دي او که غریب. لکه خېبر صیب وائي:

ـــ په حجره کښې فرق د خان او لوګي نشته
هر مسلم د رسم یې اور دے په حجره کښې

په حجره کښې هر سړي خپله خبره کولے شي، او په چا هیڅ پابندي
نه وي.

## ۲- بدرګه:

کله چې پښتنو کره مېلمه راشي او بیا
واپس ځي نو پښتانه ورسره د خپل کور کلي حدودو پورې
ځي د دغه د حفاظت د پاره دې ته بدرګه وائي، او که
دې دوران مېلمه ته څه نقصان اورسیدو نو د تم به په دغه
نقصان پوره کوي. نن صباء د نیا بدرګې ته پروټوکول

وائي. خوشحال بابا هم په خپله شاعري کښې د بدرګې لوړي استعمال کړې دے:

بدرګه که محبت راسره نه وے
یک تنها به په خونښخوارو لارو تلل څوک

## ۳- بدل:

کله چې يو سړے زياتي او بل سړے هم کړي نو د مړي وارث خاندان به بدل اخلي، څکه نه چې په اسلام کښې قصاص وئيلې شي. پښتنو معاشره کښې بدل ډير عام دے او پښتانه څامخا بدل اخلي خو معاف کول هم پښتانه يو ښه عمل ګڼړي.

## ۴- دامړه:

دامړه د پښتنو د جنګ يو طريقه وه، څکه نه چې دنيا ګوريلا جنګ وائي. د دامړې مطلب دي په يو وخت بانذي د مختلفو طريقو او مختلفو طرفونو نه حمله کول، دي وجې نه په دښمن اوېريږي. کله چې به دښمنان زيات وو نو پښتنو به دا طريقه کوله.

## ۵- چغه:

چغه يو داسې دستور دے چې پښتانه ټول په شريکه يا په جمع يو قومي کار له راوځي. مثلاً سيلاب راشي، اور اولګي، د کلي وله ګنګل وي يا څه داسې کار دے چې د ټول لو په شريکه دے، نو څغي د پاره آواز کيږي

Babar Paper Product

Scanned with CamScanner

چې ورته چغه وتیلي کیږي ۔

## ۶- ملاتړ:

ملاتړ مطلب ملا تړل یعنې لو کاره په مشترکه راټولیدل ۔ آسان الفاظو کښې د دې مطلب دے اتفاق واتحاد ۔ پښتانه ملاتړ د لوئي هم کار د پاره هم کوي او د طاقتور دښمن خلاف هم ۔

## ۷- پېغور:

پېغور د پښتنو لو ډیر خطرناک څیز دے ۔ پېغور دے نه وائي چې وګله لو کس بل کس ته د عفځ باره کښې یا د عفځ د خاندان باره کښې داسې لو خبره وکي چې د دې کمزوري پاتې شوي وي ۔ لکه چې څوک چاته ووائي چې د خپل پلار تپوس دے وکه یا خپل تپوس وکړه ۔ پېغور د وجې نه ډیر سړي او جنګ جګړې هم شوې دي ۔ د اباسین صیب د شعر لوه مصرعه ده:

• پېغور دے د پښتنو په ډیوالو کښې ډیوال

## ۹- اشر:

اشر د پښتنو قام د اتفاق نښه ده ۔ نن صبا چې دنیا کښې د ابن جي او کوم نظام دے ، د دې تصور د اشر نه راوتی دے ۔ عمر وګله چې لو سړی سبځ کار کول غواړي کښځ ټول خلق راټول کړي ، خپل خپلوان ، دوستان ، مشران او ټول په لوزائې د خپل خیکمې کار وکي دے

ته اشر وائي.

## ۱۰- میلمستیا:

میلمستیا د پښتنو او د اسلام په شریکه صفت دے. خو د پښتنو قام تک ډیر او خاص صفت دے. پښتانه کره چې کله میلمه راشي، نو د میلمه د خوراک پوښاک، د خدمت او د شپې د پاره بندوبست کول دا ټول په میلمستیا کښې راځي.

## ۱۱- سوره:

سوره پښتنو کښې د سزا یو قسم دے. کله چې په یو کس ظلم وکړي عموماً قتل، نو د ظالم لور، خور یا د ده د کور ښځې په مظلومانو کره ورکړې کولې، دا د ښځې پښتنو وخت حسب سره یو بد رسم یو، ځکه چې دا رشته به او شوه بیا په دشمنۍ په رشته داري بدله شوه او لور مرګونه به نه کیدل. خو نقصان یې دا وه چې ښځې به دې په اس سوره کړه او ځوک به ورسره نه تلل مطلب خوشحالي به نوه پکښې. نن صبا وخت ځکه بند نه ده چې نن صبا لوړ ډیر آ ایشن شته دے.

## ۱۲- پایلي:

د ټولو خبرو مغز دا دے چې پښتنولي د پښتنو د ژوند تیرولو طریقه کوم کښې چې د پیدائش نه واخلې تر مرګ پورې او بیا د مرګ نه بعد هم ښځې لوی طریقې شامل دي. آخر کښې دا اووایم چې پښتانه او پښتنولي د یو بل لازم ملزوم دي.

Babar Paper Product

Scanned with CamScanner